مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

**ليکوال: پورنيما شرما**
**ژباړونکی: نذير احمد**

۲۰۱۹/۰۳/۰۶

Ms Purnima Sharma
PhD Research Scholar
Centre for European Studies, School of International Studies
Jawaharlal Nehru University
New Delhi-110067
Email: poornima.sharma75@gmail.com

# نيمروز: د افغانستان يو نوی اقتصادی مرکز

## مقدمه

نيمروز، په پښتوکې دنيمې ورځې په مانا دی، يوه توده او صحرايي سيمه ده چې دافغانستان په جنوب لويديځ کې موقعيت لری. دا ولايت پنځه ولسوالۍ لري: زرنج (پلازمينه)، چاربورجک، کنګ، چخانسور او خاشرود. نيمروز په لويديز کې د ايران او په جنوب کې د پاکستان سره سرحد لري. نيمروز څو کلتوري ټولنه لري. خلک يی په بيلابيلو قومونو پورې تړاو لري لکه بلوڅ (اکثريت)، پښتانه، تاجک، هزاره او نورو چې په سوله ييزه فضا اوتفاهم کې له يوه بل سره ژوند کوي.

له بده مرغه چې نيمروز، د اوږدې مودې لپاره، له سختو او درنو وچکاليو سره مخ شوي ځکه خو ژوند ترډيره حده په کې سخت شوی دي. دا ولايت د۱۲۰ ورځو بادونو له امله مشهور دی. د وچکالی له امله خاوری او شګی له دغو بادونو سره په هره خوا کې را پورته کيږی چې په پايله کې يې ورځني فعاليتونه او همدارنګه سړکونه او دغه ولايت ته رسيدلې لارې د اوږدې مودې له پاره بنديږی. په هر صورت، له دې ټولو ستونزو سره بياهم ويلای شو چې د نيمروز خلک له غو ټولو ستونزو او توپانونو او تودې هوا سره اوس عادت شوي اوژوند دلته هم لکه د افغانستان په نورو سيموکې په عدي توګه روان دی.

زرنج دافغانستان د قاچاق وړونکې او راوړنکي ښار په نامه پيژندل کيږي ځکه چې له دغه شاره دهرې ورځې په اوږدو کې د ايران زابل ښارته چې له دغه ښارسره نژدې پروت دی د وسلو او نشه يی توکونو او انسانانو د قاچاق کاروبار پرمخ بيول کيږي. له دغې لويي او دردونکي ستونزې سره سره په دې وروستيو کې، د دې ولايت د استراتيژيک اهميت زياتوالی د سيمې او نړۍ پاملرنه ځان ته راګرزولی ده داسې چې ددې ډول ځانګړې پاملرنې فکر هيڅکله هيڅ چاهم ددغه ښار په اړه نه کاوه. خو نن نيمروز هغه افغاني سيمه شوه چې افغانستان يې يوځل بيا له اوږدې مودې وروسته دهند له سمندرسره وتاړه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## پس منظر

په تاريخي آثارو کي، د نيمروز ولايت په بيلابيلو نومونولکه سيستان، قلعه کنګ، لاش جووين او چخانسور ياد شوى دى. دا ولايت په ۱۹۶۴ ميلادى کال د فراه له ولايت څخه چي اوس د دغه ولايت په شمال کي پروت دى، په رسمي ډول دځانګړي ولايت په نامه په رسمي توګه بيل شو.[i]

پخواني نيمروز يومهال نه يوازې تاريخي اهميت درلود بلکي په جغرافيايى لحاظ هم يوسمسور او ودان ولايت و چي د بيلابيلو سيندونو لکه هلمند، هريرود، فراه رود اوخاشرود له برکته يې د آبادى او ودانۍ لوى وياړ په برخه شوى و.[ii]

په ۲۰۰۰ ميلادى کال کي، د سختي وچکالۍ له امله هغه ټول سيندونه چي دغه سيمه يې اوبوله ټول وچ شول چي دغه وچوب په خپله د خلکو پر ژوند باندې سخته اغيزه وکړه. دا چي ددغي سيمي د خلکو ژوند پر څمکو او مالدارۍ باندې چليده هغه دغي وچکالۍ له سختو ستونزو سره مخامخ کړ.

د نيمروز ولايت ان د طالبانو پرمهال هم يو بې اهميته ښارګنل کيده، هغوى هم ددغه ولايت دڅارني او کنترول کار ته زياته پاملرنه نه کوله. خو له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته چي امريکا او نړيوالو ځواکونو پرافغانستان باندې يرغل وکړ، له هغه مهاله وروسته دغه ولايت ته د نړيوالو پاملرنه هم ور واوښته چي له يادکال څخه وروسته نيمروز په يوه سوداګريز اومهم ښارباندې بدل شو.

بله په زړه پورې خبره داده چي نيمروز يوازنى ولايت دى چي هلته کله هم نړيوال ځواکونه نه دي ځاى پرځاى شوي، او نړيوالو مرستندويو ټولنو او سيمه ييزحکومت هم دلته له خلکو سره له مرستو سترګي پټي کړي وې.[iii] دغه ولايت پرهغه مهال ځان له خوارى، بيکارۍ او بيوزلۍ وژغوره چي په دغه ولايت کي يوناما، يو اس يي آى دي، بارک، نړيوالي هوسايي او نورو کورنيو او بهرنيو موسسو په دغه ولايت کي د يو شمير پرمختيايي پروژو په برخه کي خپل کارونه پيل کړل. لکه چي يادمو کړه دغه ولايت يو کرنيز او پرمالدارۍ اقتصاد ولاړ ولايت و خو د وچکالۍ له امله ددغه ولايت خلکو په تيره هغوى چي د مجاهدينو او طالبانو په وخت کي له هيواده ايران ته مهاجرشوى وو، دهغوى د بيرته راتګ په ترڅ کي له ځانو سره نوې مهارتونه او تجربې راوړې او زياترو خلکو دلته سوداګرۍ، اونورو نورو کاروته ورمخه کړه او نوى کارونه او مصروفيتونه ددې لامل شول چي خلک په نويو دندو او کړو وړو باندې بوخت شي.

پردې برسيره داهم بايد ياده کړو چي د نيمروز خاوره په پرله پسي توګه د طالبانو، ياغي ترهه ګرو ډلو او دنشه يى توکونو اوانساني قاچاق وړونکو له خوا له پولي دننه او باندې کارول کيږي. له دي سره سم، که څه هم په پوله باندې د ايران له خوا د وريښمو په نامه يو پل د تګ را تګ په خاطر جوړشوى دى، خو له دي سره سره خلک له دغي لارې څخه کار نه اخلي او خپل کاروبارته له غير قانوني لارو دوام ورکوي، چي دغه چلند کله کله د کابل او تهران ترمنځ د کړکيچ رامنځ ته کيدو لامل هم کيږي. ددغه بهيرله مخي دا ويلاى شوچي د نيمروز له لارې له ايران سره د افغانستان ترنيمايى زياته سوداګري غيرقانوني سوداګري بلل کيږي.[iv]

په هرډول د نيمروز په امنيتي برخه کي د زرنج – دلارام لاره چي د ۶۰۶ مې لارې په نامه سره ياديږي په خپل وار له اهميته ډکه ده. دغه لاره د هند د حکومت په مالي مرسته د (۱۵۲ مليونو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

ډالرو) په خرڅولو سره جوړه شوې ده. چې د طالبانو له خوا د یو شمیرهندي انجنیرانو، افغان امنیتي ځواکونو د وژلو خبره او قرباني هم په کې وه.[v]

همدارنګه د ویلو وړ ده چې په دې وروستیوکې په نیمروز کې دخلکو، حکومت اوسیدونو په مرسته یو شمیرخصوصي ښوونځي، روغتونونه، دولتي او خصوصي روغتیایی مرکزونه ، پوهنتونونه، دارالمعلمین او دمسلکي زده کړو نور مرکزونه جوړشوي دي.

## نیمروز: سمندر ته یوه دروازه

**نیمروز په دې وروستیوکی د پاملرنې وړ مرکز ګرزیدلی دی، دغه ولایت دغه ارزښت هغه مهال وړپه برخه شو، چې دهند او ایران هیوادونو افغانستان ته د دری اړخیز تړون بلنه ورکړه، او ژمنه یې سره وکړه چې د چاه بهار بندر چې د ایران د سیستان او بلوچستان په ولایت پورې اړه لري فعال او جوړکړي. د ایران د سیستان او بلوچستان ولایت له نیمروز سره پوله لري، چاه بهار بندر افغان ته یو طلایی چانس دی، دغه بندرافغانستان له سمندرسره تړي، افغانستان سمندرته لاس رسی پیداکوي چې کولای شي د افغانستان په بدلون او پرمختګ کې په نژدې راتلونکي کې فعاله ونډه ترسره کړي.**

**څکه خو ویلای شو چې دا د کابل له پاره یوه ښه او په زړه پورې شیبه ده چې خپل اقتصاد او ټولنیز پرمختګ ته وده ورکړي، او له دغې لارې د مرکزي آسیا او نورو هیوادونو سره اړیکي ولري. افغانستان کولای شي چې د چاه بهار او نیمروز له لارې خپل تجارت ته وده ورکړي، په عین حال به دا ګټه هم وکړي چې نور به د ستونزې رامنځ ته کونکي ګاونډي (پاکستان) له ناز اونخرو هم په امن پاتې شي. هرمهال چې له پاکستان سره ستونزه پیداکیږي، هغه هیواد د افغانستان پرمخ خپله یوازنی پوله واګه د افغانستان د تجارتي مالونو د لیږدولو په خاطربندوي. چې دا کار د ډیلي او کابل ترمنځ سوداګري له سختو ستونزو سره مخامخ کوي.**

**د چابهار ګډه پروژه د هند د لومړي وزیر نریندرمودي، د ایران د ولس مشر، حسن روحاني او د افغانستان د ولس مشر اشرف غنی له خوا د ۲۰۱۶ کال د مي په میاشت کې لاسلیک شوه.[vi]**

له ۲۰۱۷ میلادی کال راهیسې، هند د چابهار له لارې ۱۰۰،۰۰۰ ټنه غنم او ۴۸۰۰ کانتینرونو حبوبات او نورې مرستې نیمروز ته لیږدولی دي[vii] چې بیا د زرنج له لارې د افغانستان نورو ولایتو ته ستول شوی دي.[viii] زرنج د افغانستان له لویو ښارو سره تړلی دي له همدې امله نن سبا د سوداګرۍ او ترانسپورت په لوی مرکز باندې اوښتی دي.[ix]

پردې سربېره، هند او ایران په نظرکي لري چې له چابهار څخه تر بامیانو ولایت (حاجیګک پورې سړکونو او د اورګاډي کرښې هم وغزوي.[x]

د ۲۰۱۹ کال د فبرورۍ په ۲۴ نیټه ولسمشر اشرف غنی او د هند سفیر ښاغلی وینی کمار په ګډه په زرنج کې له یولړ مراسموله نمانځنې وروسته د افغانستان لومړني صادرات لکه غالی، وچې میوې، پنبه، تالک او ډبرې په ۲۳ لاریو کې له چابهار بندر څخه هند ته ولیږلې.[xi]

دغې مهمې پروژې ته د نیمروز په ولایت کې ځانګړی امنیتي او ستراتیژیک اهمیت ورکړی دی. چې ددغه ولایت په اقتصادي وده کې به هم د پاملرنې وړ ونډه ترسره کړي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

## نتیجه

په دې توګه، نیمروز چاه بهارته د یوې دروازې بڼه لري او دا دافغانستان له پاره هم یو په زړه پورې پلتفارم دی چې د افغانستان په اقتصادي وده کې په هیواد کې دننه او باندې بڼه برخه اخستلای شي. نیمروز دکابل او تهران او همداسې له هند سره د افغانستان د تجارتي اړیکی په پیاوړتیا او پراختیا کې د پاملرنې وړ ونډه ترسره کولای شي. دغه تجارتي لار به هغوستونزو ته هم د پای ټکی کیږدي هغه چې وخت ناوخته د کابل او اسلام آباد ترمنځ راپورته کیږي. ځکه خو یو زیات شمیر اقتصاد پوهان په دې باور دي چې نیمروز د افغانستان له پاره یو مهم ولایت دی او د ستر اقتصادي او تجارتي اهمیت په سترګو ورته ګوري.

---

[i] Anna Larson, "Governance Structures in Nimroz Province", *Relief International* (November 2010) Accessed on 27 February 2019, URL: https://www.refworld.org/pdfid/4cf77cac2.pdf

[ii] Government of Afghanistan, "Provincial File for Nimroz Province", *Regional Rural Economic Regeneration Strategies* (), Accessed on 27 February 2019, URL: https://afghanag.ucdavis.edu/country-info/province/files/gov-Nimroz.pdf

[iii] Karlos Zurutuza, "Afghanistan's Forgotten Province", *The Diplomat* (1 December 2010), Accessed on 27 February 2019, URL: https://thediplomat.com/2010/12/afghanistans-forgotten-province/

[iv] Sune Engel Rasmussen, "On the Edge of Afghanistan", *Foreign Policy* (12 September 2017), Accessed on 27 February 2019, URL: https://foreignpolicy.com/2017/09/12/on-the-edge-of-afghanistan-taliban-iran-war-united-states/

[v] Agencies, "India, Iran and Afghanistan Sign Chabahar Port Agreement", *Hindustan Times* (24 May 2016), Accessed on 27 February 2019, URL: https://www.hindustantimes.com/india/india-iran-afghanistan-sign-chabahar-port-agreement/story-2EytbKZeo6zeCIpR8WSuAO.html

[vi] Afghanistan Times, "Chabahar Port Highly Important to Afghanistan: Afghan Envoy", *Afghanistan Times* (7 January 2019), Accessed on 27 February 2019, URL: http://www.afghanistantimes.af/chabahar-port-highly-important-to-afghanistan-afghan-envoy/

[vii] Shubhajit Roy, "First Consignment of Afghan Exports through Chabahar Flagged off", *The Indian Express* (24 February 2019), Accessed on 27 February 2019, URL: https://indianexpress.com/article/india/first-consignment-of-afghan-exports-through-chabahar-flagged-off-5599380/

[viii] Ayaz Gul, "Indian Wheat Makes History, Arriving in Afghanistan via Iran", *Voice of America* (11 November 2017), Accessed on 27 February 2019, URL: https://www.voanews.com/a/indian-wheat-makes-history-arriving-in-afghanistan-via-iran/4110774.html

[ix] Ashok Sajjanhar, "Chabahar: A Game Changer in Eurasia?", *Observer Research Foundation* (19 December 2017), Accessed on 27 February 2019, URL: https://www.orfonline.org/expert-speak/chabahar-a-game-changer-in-eurasia/

[x] Nihar Ranjan Das, "Afghanistan's Relations with India and Iran: An Assessment of Ghani Period", *Indian Council of World Affairs* (27 July 2016), Accessed on 27 February 2019, URL: https://icwa.in/pdfs/IB/2014/AfghanistansRelationswithIndiaandIranIB27072016.pdf

[xi] Shubhajit Roy, "First Consignment of Afghan Exports through Chabahar Flagged off", *The Indian Express* (24 February 2019), Accessed on 27 February 2019, URL: https://indianexpress.com/article/india/first-consignment-of-afghan-exports-through-chabahar-flagged-off-5599380/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ